د افغانستان د علومو اکاډمي
د طبیعي ـ تخنیکي علومو معاونیت
د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز

# د ستروسو سیلا (Citrus psylla) حشرې په کنترول باندې د کیمیاوي بېلابېلو درملو د استعمال اغېزې

څېړنوال دوکتور گل شاه آرینوال
د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو د مرکزعلمي منشي

# بسم الله الرحمن الرحيم

# لنډيز

د ستروسو د سيلا څېړنه د ننګرهار ولايت د فارم جديد په څېړنيز فارم کې ترسره شوې ده . د څېړنې په جريان کې څرګنده شوه چې دا حشره نصواري رنګ لري، د جسم قطر يې 31.75 ميلي متره او د جسم اوږودوالی يې 3 – 4 ميلي مترو پورې رسيږي. دا حشره د ستروسو په باغونو کې، په ځانګړي ډول د فارم جديد په څېړنيز فارم د ستروسو په باغونو کې د پسرلي په لومړيو وختونو کې پيدا کيږي او آن د مني د موسم تر اخره پورې خپل ژوند ته دوام ورکوي. زيات فعاليت يې د سرطان او اسد په مياشتو کې ترسترګو شوی دی. ياده حشره د ستروسو له ځوانو پاڼو تغذيه کوي. که چېرې ياده حشره کنترول نه شي، د ستروسو باغونو ته د پام وړ زيان رسوي.

د دې حشرې د کنترول لپاره موږ د څېړنيز فارم د ستروسو په باغونو کې د سرطان او اسد په مياشتو کې د 15 ورځو په واټن سره د Pyridabin، Imidacloprid او Cypermethrin حشره وژونکي درمل د 0.5، 1، 1.5 او 2 سي سي په دوزونو سره استعمال شوې دي.

# سریزه

**د ستروسو سیلا (Citrus psylla)** په استوايي او نیمه استوايي سیمو کې لکه افغانستان، عربستان، د امریکا په جنوبي او مرکزي برخو، مکسیکو، کارابین کې لیدل شوې ده. یاده حشره د لومړي ځل لپاره په (۱۹۹۸) کال د جون په میاشت کې فلوریدا په ساحلي سیمو کې تر سترګو شوه چې په ۲۰۰۱ کال کې د فلوریدا په ۳۱ سیمو کې یادې حشرې انتشار او پراختیا پیدا کړه.

د ۱۹۸۵ کال څخه تر ۲۰۰۳ کال پورې د یادې حشرې انتشار دوام لرلو چې د دې حشرې په واسطه رامنځته شوي زیانونه د امریکا د متحده ایالاتو د فلوریدا په ایالت کې په ۲۰۰۵ کال کې کشف شوه. دغه حشره په اسیايي سیمو کې لکه هندوستان، سعودي عربستان کې په ۲۰۰۴ کال او په تګزاس کې په ۲۰۰۵ کال کې پیدا شوه.

د ستروسو اسيايي سيلا يوه نصواري رنګه حشره ده چې د ستروسو په باغونو کې د پسرلي په پيل کې راپيدا کيږي او تر قوس مياشتې پورې خپل فعاليت ته دوام ورکوي، ياده حشره د ستروسو ټولو ورايټيو، په ځانګړي ډول د روتاسيه (Rutaceae) کورنۍ ته زيات زيان رسوي.

په عمومي ډول دوه ډوله سيلا موجوده ده، يو ډول يې اسيايي او بل ډول يې امريکايي ده. موږ دلته يوازې اسيايي سيلا تر څېړنې لاندې نيسو چې په لنډ ډول يې تاسو ته در پېژنو.



# د ستروسو د سیلا حشرې ظاهري بڼه

د دې حشرې قطر 31.75 mm او اوږدالی یې 4 mm – 3  ته رسیږي. یاده حشره د ځوانۍ په مرحله کې د ستروسو د پاڼو د سطحې برخې څخه تغذیه کوي. او د جسم اخري برخه یې د ځمکې د سطحې سره تقریباً ۴۵ درجې زاویه جوړوي. ځوانه سیلا په ظاهري ډول د یوې څخه تر دوو میاشتو پورې خپل ژوند ته دوام ورکوي. ښځینه حشره یې وږې، زیړې او نارنجي هګۍ لري او  هګۍ اچوونه یې ستروسو په ځوانو پاڼو کې ترسره کیږي. د دې حشرې هګۍ اچوونه نظر میزبان نبات ته توپیر کوي. د هګیو شمېر یې په اوسط ډول په چکوتره کې ۸۵۷ او په لیمو کې ۵۷۲ ته رسیږي.

# د ستروسو د سیلا حشرې د ژوند دوران

دا حشره د ژوند ساده دوران لري چې له هګیو پیلیږي او تر پنځو نمف مرحلو څخه د ځوانۍ تر مرحلې پورې دوام کوي. په عمومي ډول نمف یي زیړ نارنجي رنګ لري، د نویو ځوانو پاڼو څخه تغذیه کیږي. ډېر چټک حرکت لري.



ادامه ...

د ځوانۍ د مرحلې د انکشاف مرحله یې د هګیو څخه تر ځوانۍ پورې د ۱۶ څخه تر ۱۷ ورځو پورې وخت نیسي.

د انکوبیشن مرحله یې له 10 تر 20 ورځو او د نیمف 5 مرحلې يې د 15 څخه تر 47 ورځو پورې د اوړي او ژمي په موسم کې وخت نیسي. همدا راز د ستروسو سیلا په 8 هفتو کې مکمل د ژوند دوران بشپړوي او یاده حشره د کال په جریان کې د 9 څخه تر 15 پورې نسلونه ورکوي او ځیني وختونه یې د نسلونو شمېر تر 16 پورې رسیږي.

Hassain, 1980

# د ستروسو د سیلۍ کنترول

څرنګه چې یاده حشره د ستروسو د ځوانو پاڼو څخه تغذیه کیږي، د دې جریان په نتیجه کې د کلوروفیل عملیه تخریبیږي او د پاڼو نورمال فعالیت له منځه ځي چې په نتیجه کې د ستروسو ونو ته د پام وړ زیان رسیږي. که چیرې د یادې حشرې مخنیوی ونه شي، د یادو ونو په حاصلاتو کې د پام وړ کموالی راځي چې په پایله کې د حاصلاتو د کمیت او کیفیت کچه کمیږي او د وخت په تیریدو سره د یادو ونو پاڼې غونجیږي او ونې د دې یادې حشرې د زیات فعالیت په جریان کې په تدریجي ډول له منځه ځي.

د دې لپاره چې یاده حشـره مو کنترول کړي وي او یاد باغونه مو د دې حشـرې د زیان څخه ژغورلي وي، موږ د ننګرهار ولایت د PHDC په خیږنیز فارم کې د خپلې خیږنیزې ساحې په مربوطاتو کې د یادې حشـرې د کنترول لپاره د حشـره وژونکي ایمیدوکلوپراید (Imdacloprid)، پریدابین (Pyridabin) او سایپرمیترین (Cypermethrin) 0.5، 1، 1.5 او 2 سي سي په یوه لیتر 1 Lit اوبو کې د پنځلسو ورځو په وقفو سره استعمال کړل چې په زړه پورې نتیجه **ایمیدوکلوپراید** ورکړه.

# لومړی جدول – د جلال آباد د PHDC په خېړنيز فارم کې ستروسو ته د زيان رسوونکو حشرو او د هغوی د وژونکو درملو بيلابيل دوزونه 1401 هـ.ش

| د ستروس ډولونه | زيان روسوونکي حشرې | د درملو د استعمال وختونه | تريټمنټونه | تکرارونه | | | | د درملو موثريت په سلو کې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د درملو ډولونه | د درملو دوز په سي سي | | | | | | | |
| ليمو | کنې Mite | سرطان – اسد | Pyridabin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | 22.3 | 42.8 | 71.2 | 91.5 |
| | | | Imidacloprid | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | - | - | - | - |
| | | | Cypermethrin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | - | - | - | - |
| مالته | سيله Psylla | سرطان – اسد | Pyridabin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | - | - | - | - |
| | | | Imidacloprid | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | 23 | 54.5 | 72 | 88 |
| | | | Cypermethrin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | 21 | 28 | 45.2 | 76 |
| سنتره | د پاڼو غوڅوونکی چینجی Caterpillar | سرطان – اسد | Pyridabin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | - | - | - | - |
| | | | Imidacloprid | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | 22 | 27 | 43.8 | 74.5 |
| | | | Cypermethrin | 0.5 | 1 | 1.5 | 2 | 23 | 44.2 | 68 | 91 |

پورتنی جدول په ډاګه کوي چې د جلال آباد د PHDC په ښېرنيز فارم کې ستروسو ته د زيان رسوونکو حشرو د کنترول لپار د ستروسي سيلې (Citrus Psylla) په کنترول کې د پورتنيو درې ډوله حشره وژونکو درملو له جملې څخه د امېډوکلوپرايډ (Imidacaloprid) حشره وژونکو درملو 2 سي سي په يو ليتر اوبو کې په زړه پورې نتيجه ورکړې ده چې ياده حشره يې 88 سلنه له منځه وړې ده.

د ستروسو کنو (Citrus Mite) د کنترول لپاره د پيريدابين (Pyridabin) کنه وژونکو درملو 2 سي سي په يو ليتر اوبو کې په زړه پورې نتيجه ورکړې ده چې يادې کنې يې 91.5 سلنه له منځه وړي دي.

همدارنګه د ستروسو پاڼې غوڅوونکي چينجي (Catter Pillar) د کنترول لپاره د ساپيرميترين (Cypermethrin) حشره وژونکو درملو 2 سي سي په يوه ليتر اوبو کې په زړه پورې نتيجه ورکړې ده چې ياد چينجي يې 91 سلنه له منځه وړي دي.

# پایله

- د دې علمي څېړنې د بشپړېدو په جریان کې د اسیایي سیلا ( Asian citrus psylla)  انتشار، ځانګړتیاوې او د هغې مخنیوی او کنترول په ډاګه شوی چې یاده حشره د ستروسو ورایټیو او په ځانګړي ډول د روتاسیه (Rutaceae) کورنۍ ته ډېر زیان رسوي.
- څرنګه چې یاده حشره د ستروسو د څوانو پاڼو څخه تغذیه کیږي، د دې جریان په نتیجه کې د کلوروفیل عملیه تخریبیږي او د پاڼو نورمال فعالیت له منځه ځي چې په نتیجه کې د ستروسو ونو ته د پام وړ زیان رسیږي.
- د ننګرهار ولایت د PHDC په څېړنیز فارم کې د خپلې څېړنیزې ساحې په مربوطاتو کې د یادې حشرې د کنترول لپاره د حشره وژونکو درملو  [ایمیدوکلوپراید (Imdacloprid)، پایریدابین (Pyridabin) او سایپرمیترین (Cypermethrin)] 0.5، 1، 1.5 او 2 سي سي په یوه لیتر 1 Lit اوبو کې د پنځلسو ورځو په وقفو سره د سرطان او است اسد په میاشتو کې استعمال کړل.
- د ستروسي سیلې (Citrus Psyllid) په کنترول کې د پورتنیو درې ډوله حشره وژونکو درملو له جملې څخه د امېډوکلوپراید (Imidacaloprid) حشره وژونکو درملو 2 سي سي په یو لیتر اوبو کې په زړه پورې نتیجه ورکړې ده چې یاده حشره یې 88 سلنه له منځه وړې ده.

# وړانديزونه

۱ – د كرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته وړانديز كيږي، په هغو سيمو كې چې د ستروسو باغونه شتون لري د زيان رسوونكو حشرو د كنترول لپاره بايد مسلكي كدرونه وروزي.

۲ – د افغانستان ستندرد اداري ته وړانديز كيږي چې د نباتاتو، په ځانګړي ډول د ستروسو د زيان رسوونكو حشرو د كنترل لپاره د ستندردو درملو په واردولو كې د بررسۍ په هكله زياته هڅه وكړي چې د بې كيفيته درملو د ورادولو مخنيوى وكړي.

۳ – د كرنې، اوبو لګولو او نورو اړوندو ادارو ته وړانديز كيږي چې د ستروسو د زيان رسوونكو حشرو د كنترول لپاره د بيولوژيكي كنترول زمينه برابره كړي.

# اخځلیکونه

ډاډمن، محمد اغا ( ۱۳۹۰). عصري كرنه: مومند خپروندويه ټولنه. جلال آباد. مخونه ۸ – ۲۵.
نادری، رضوان الله (۱۳۹۸). د کرنیزو افتونو مخینوی: مومند خپروندویه ټولنه، جلال آباد، مخونه۱۵ـ ۳۱ .
Chakravar thi,V.P. Savithri, p., Prasad, P.R. Rao N. V, Reddy, PP. Kumar, N.K.k and A.Verghese ( 1997 – 19981 . Biology and seasonal abundance of citrus psylla. Diphorina Citri kuwayama.Adu. In IPM For short Crops Proc. First National symp. On pest Manat. In hort. Crops: Environtl implications and thrusts Bangolor , india, 15 – 17 , 26 – 29, 32 – 33).
Dhaliwal G.S. and Ramesh Aroya( 2010) Integrated pest Management panjab Agriculture University Ludhiani India kalyani publisher Ludhiana New Dehli, pp.202 – 223.
Elahinia S.A.(2003) Disease of tree fruits and some other Horticulture plants and their Control, Guilan University press, pp.570.
Fageria M.S., Chaudhary B.R. Dahak R.S (2006) vegetable Crop production technology, Rajastan Agriculture University, kalyani publisher, New Delhi,pp 283.
Hameed. S.F. and singh S.P. (2006) Hand Book of pest Management Rajendra Agriculture
Hoy M.A., Naguyen.R.U. And A. Jeyaprakash (1999) Classical biological Control of Asian Citrus psylla. Citrus psylla. Citrus industry 80(9) 20 – 22.
SHIVANKAR V.J., SHYAM SINGH 2005 Y. INSECT PESTS OF CIT RUS AND HEIR MANAGEMENT, KALYANI PUB LISHERS NEW DELHI PP.50 – 70.
University, Bihar,pusa(india) kalyani publisher New Delhi,pp. 169.
XU, C.F., Y.H. and. C. Ke (1994) H study on the biology and control of the citrus psylla, Hcta phytophylacica sinica, 25 (21: 108 – 110).




# له پاملرنې مو نړۍ مننه

